مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

٢٠٢١/٠٨/١٨

# خدای روی مې دروږی ګوره وېمنه

راز د مینې و نه وایي چا ته نور
اور د هجر ونه شيي ما ته نور

و به ګالم غرونه، غرونه بار د ژوند
کړي وعده و نه غورځي شا ته نور

نن چې کېږي ویې کړه دمه څه له
کار د نن چې پرېنږدي سبا ته نور

مُسک، مُسک راروان يي، رب دې خير کړي
ورمې نه کړي بیا کومې بلا ته نور

خدای روی مې دروږی ګوره وېمنه
بیا مې چې ونسپاري جفا ته نور

دا ځل خو پر کړي وعده ودرېږه
بیا یې چې ونسپاري دعا ته نور

٢٠٢١/٠٧/٠٥





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ